آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۲۵

# لارورکي لارویان

## پنځه ویشتمه برخه

## په روسیه کې د افغانانو چاپي خپروني

### د افغانستان د مهاجر ژورنالیزم یو ناپیژندل شوی ځپرکي:

### ۲۶ ـ لیمه (مجله):

له ماسکوه خپریدونکي دري میاشتنی مجله،

مسؤل مدیران نظیف الله تکل او عارف خزان.

لومړۍ گڼه یې د ۱۳۷۵ د لړم ( ۱۹۹ م نوامبر) کې له چاپه را و وته. لیمه په ماسکو کې یوازینی مجله وه چې علمي تحقیقي مقالې او شعرونه یې خپرول. لیمه یوازې په پښتو ژبه خپریده.








افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ۲۷ـ صدف (مجله):

مؤسس او مسؤل مدیر: سعید ورکزی.

صدف هم لکه مهاجر ژوندون د کورنیو مجله وه چي فرهنګي، هنري او معلوماتي مطالب یې خپرول.

لومړنۍ ګڼه یې د ۱۳۷۶ هجري شمسي په میزان (د ۱۹۹۷ م کال اکتوبر) کې له چاپه را و وته. صدف په پښتو او دري ژبو خپریده، خو پښتو په کې لږه وه.




## ۲۸ ـ امروز(مجله):

د امتیازخاوند: داکترفیض ساویز،

مسؤل مدیر: پرویزآرزو.

امروز میاشتنۍ مجله وه چي لومړۍ ګڼه یې د ۱۳۷۷ هجري شمسي کال په جدي (د ۱۹۹۹ م کال جنوري) کې له چاپه را و وته. امروز په پښتو او دري ژبو خپریده. معلوماتي او ادبي مطالب یې خپرول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




## ۲۹ـ شیر آغا ( مجله ):

دا مجله د نوید د جریدې ضمیمه وه. لومړنی ګڼه یې د ۱۳۷۶ هجري شمسي کال په سنبله (د ۱۹۹۷ م کال سپتمبر کې له چاپه را و وته.

دا مجله باید په میاشت کې یو وار چاپ شوې وای، خو د دوه زرم کال تر نیمایي پورې یې یوازې یوه ګڼه را وتلې وه، د شیرآغا په لومړنی ګڼه کې راغلي وو چې: دا مجله به هره میاشت یو وار چاپیږي، خو د شیرآ غا میاشت نه تمامیدونکې شوه، د ډیرو میاشتو له تیریدوسره، سره یې میاشت پوره نه شوه چې نوی ګڼه یې را وتلې وای.

وروسته ښاغلي مسؤل مدیر فاروق فردا را ته د تیلیفون په کرښه و ویل چې یوه بله ګڼه یې هم را وتلې ده. دا یوه سیاسي، انتقادي، اجتماعي او طنزي خپرونه وه، چې په پښتو او دري ژبو چاپیده؛ خو پښتو په کې په نشت حساب وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ




«له يوه بشپړ پوځ، چي په زر ګونو ويني څښونکي سرتيري ولري، دومره نه ډارېږم؛ لکه له څلورو ورځپاڼو څخه، چي له ما سره مخالفي وي.»

(نا پليون)

د پنځه ويشتمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ